مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمد انور اخګر ۲۰۲۶/۰۹/۱۰

# لر او بر پښتانه او د پاکستان انګرېزي پالیسي

(دوه دېرشمه برخه)



(راجپوتتوکمه مسلمان جنرال راحیل شریف)

## پنجابی پوځ: جورېښت، شالید او کودتاګانې(۲۸)

## له څلورو هندي مهاجرو جنرالانو وروسته، د پاکستان د پوځ ستردرستیزان (۲)

## جنرال راحیل شریف: (له ۲۰۱۳ څخه تر ۲۰۱۶ز. کال پورې)

**راحیل شریف هم یو پنجابی جنرال دی، هغه د پاکستان د پنجاب ایالت د ګجرات ولسوالۍ د کنجه سیمې اصلي اوسیدونکی دی، نومورې په یوه پنجابی راجپوت[1] کورنۍ پورې تړاؤ لري او د مسلمانو راجپوتانو څخه دی.** راحیل شریف د بلوچستان ایالت په مرکز، کوټه کې زیږېدلی دی.[2]

[1]: په لرغوني هند کې د هندوانو د راجپوت قوم یو له لویو قومونو څخه شمېرل کیږي، دا ربښتیا ده چې راجپوتان جګړن خلک دي خو لوی احمد شاه بابا هند ته د خپل لومړي سفر پر مهال، په۱۲۶۱هـ. ق، کال کې چې د مغلو د ۲۵۰/۰۰۰ لښکر، یوه مهمه برخه راجپوتانو جوړوله او مشري یې (مهاراجه ایسري سېنګ) کوله، د سرهند، په (مانوپور) سیمه کې سخته ماتې او لېونۍ تېښته ورکړې ده. چې دا په تاریخ کې (د راجپوتانو تېښته) په نوم یادیږي.
بله دا چې په هند کې د روهیله پښتنو سیمه چې پخوا د (کټه هېر) په نوم بلل کېدله، له راجپوتانو څخه پښتنو د تورې په زور نیولې ده. *(د لا زیاتو مالوماتو لپاره ولولئ: درانی احمد شاه. د ډاکټر ګنداسېنګ کتاب، د نصرالله سوبمن منګل پښتو ژباړه، ۸۸مخ؛ امام‌الدین حسیني: تاریخ حسین شاهي، ۲۳، ۲۴ او ۲۵مخ؛ علامه اکاډمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد: غالب جنګ غازي نواب احمد خان بنګښ او د هغه کورنۍ،۷۷مخ؛ سرمحقق زلمی هېوادمل: په هند کې د پښتو ژبې او ادبیاتو د ایجاد او ودې پړاوونه، ۳۸۴مخ)*
[2]:https://www.nation.com.pk/17-Jun-2016/general-raheel-sharif-turns-60


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

جنرال راحیل شریف د ۲۰۱۳ز. کال د نومبر په ۲۷مه نېټه د پاکستان د لومړي وزير نواز شریف لهخوا د پوځ د نهم، ستردرستیز په توګه وټاکل شو.

وروسته له هغې چې جنرال شریف د پوځ مشر شو نو په شمالي وزیرستان کې یې د وسلهوالو طالبانو پر وړاندې د **(ضرب عضب[3])** په نوم پوځي عملیات ترسره کړل. په وزیرستان کې د جنرال شریف لهخوا دغو خطرناکو عملیاتو دوه عوامل لرل، یو دا چې «امریکایانو له کلونو راهیسې پر پاکستان زور راوړی ؤ چې په شمالي وزیرستان کې د ټيټيپي وسلهوالو پر وړاندې پوځي عملیات ترسره کړي.

پر پاکستان د امریکایانو فشار تر دې کچې ورسید چې په پای کې د امریکا کانګرس د ۲۰۱۴ز. کال د جون په میاشت کې، له پاکستان سره پوځي مرستې په شمالي وزیرستان کې له پوځي عملیاتو سره وتړلې. **«د دې لپاره چې امریکا په راتلونکي مالي کال کې پاکستان ته پوځي مرستې ورکړي، د امریکا حکومت به اوس اړ وي چې کانګرس ته وښایي چې اسلامآباد په شمالي وزیرستان کې پوځي عملیات ترسره کوي.»[4]**

د ضرب عضب پوځي عملیاتو دویم لامل د کراچۍ په جناح نړیوال هوايي ډګر باندې د وسلهوالو خونړی برید ؤ چې د ۲۰۱۴ز. کال د جون په ۸مه نېټه، د ټيټيپي په مرسته د ازبکستان د اسلامي غورځنګ(IMU) [5] لهخوا ترسره شو، د کراچۍ دا برید ډېر مهم او زیان اړونکی ؤ، ښه به وي د دې برید پر څرنګوالي، مرګـژوبلې تړ پر لوړو مالي زیانونو رڼا واچوو:

هغه مهال د کراچۍ ښار، د وسلهوالو باندونو او جنایتکارانو ښار ؤ چې له ډېرو کلونو راهسې یې د کراچۍ تجارتي ښار ناامنه کړی ؤ، سربېره پر جنايي ډلو ټپلو ځایی امنیتي ځواکونه په هر ډول فساد کې ښکېل وو، سره له دې چې پاکستاني پولیس له آره فاسد دي خو د کراچۍ پولیس په ډېره لوړه کچه په فساد کې ډوب وو[6] چې له امله یې د کراچۍ پر هوايي ډګر باندې د وسلهوالو طالبانو په برید کې مرسته کړې وه.

---

https://www.nation.com.pk/06-Dec-2020/a-brave-man-whose-mere-presence-was-a-guarantee-of-victory

[3]: ضربِ عضب: غوڅ یا غوڅوونکی ګزار. په اسلامي سرچینو کې راغلي چې (العضب) په اصل کې د اسلام د ستر پیغمبر حضرت محمد (ص) د هغې توري نوم ؤ چې د بدر او احد په غزاګانو کې یې کارولې وه، نوموړي توره اوسمهال د مصر د قاهرې د امام حسېن (رض) په جومات، (جامع الحسین) کې د رسول الله (ص) د نورو مبارکو تاریخي اثارو تر څنګ ساتل کېږي.
ومو لوستل چې د پیغمبر (ص) د یوې دوه مخي توري نوم العضب ؤ او د مشرکینو سره په جګړو کې د پیغمبر (ع) لهخوا کارول شوي وه، دا نوم چې د پاکستان پوځ (چې له آره یې له امریکایي حربي کفارو سره ملګرتیا او مرسته کړې ده) څه ډول کولی شي په داسې عملیاتو باندې د ضرب عضب اسلامي نوم کېږدي چې له امریکایانو سره څنګپهڅنګ د پښتنو مجاهدینو پر وړاندې جګړه کوي؟

[4] :https://www.dawn.com/news/1112121

[5]: ازبک وسلهوال تر دې وړاندې هم په پاکستان کې په لویو بریدونو کې ښکېل پاتې شوي وو. په دغو پېښو کې په ۲۰۱۱ز. کال کې په کراچۍ کې د مهران پر سمندري هوايي اډې برید، په ۲۰۱۲ز. کال کې په پېښور کې د باچا خان نړیوال هوايي ډګر برید، په ۲۰۱۲ز. کال کې په بنو کې د زندان د ماتولو تنظیمول او د ۲۰۱۳ز. کال د جولای په ۲۹مه په ډېره اسماعیل خان کې د زندان ماتول شامل دي.

[6]: جنرال شریف د (سند رېنجرز) په نوم د وسلهوالو ځواکونو (چې د هغه تر څارنې لاندې وو) د پاکستان تر ټولو لوی ښار کراچۍ د وسلهوالو، منظمو جنایتکارو ډلو او پراخ سیاسي فساد څخه د پاکولو دنده پر غاړه واخیسته. کراچۍ چې په ۲۰۱۳ز. کال کې د نړۍ شپږم خطرناک ښار بلل کېده، په ۲۰۱۷ز. کال کې د نړۍ د ۱۰۰ خطرناکو ښارونو له نوملړ څخه بهر کړای شو.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په ځیر و لولـئ

په کرچۍ کې فساد دومره لوړې کچې ته رسیدلی ؤ چې د هوایي ډګر په دروازو کې داسې جعلي بمليټوونکي وسایل ځای‌پرځای شوي وو چې دغه ډول جعلي وسایل، د یو انګرېز جعلکار **(جیم مککورمک)** له خوا د (ADE 651) په نوم جعلي بمموندونکو وسایلو ته ورته وو. مککورمک په ۲۰۱۳ز. کال کې د درغلۍ په جرم زنداني شوی ؤ.

انګرېز لیکوال او خبریال، **(لیو بندیکتس)** په یوه لیکنه کې چې سرلیک یې ؤ: «ولې هېوادونه لا هم هغه جعلي بمموندونکي وسایل کاروي چې یو محکوم شوي انګرېز جعلکار پلورلي دي؟» هغه د هغو پاکستاني چارواکو پر درېځ حیرانتیا ښکاره کړه چې لا هم باور لري دغه وسیله کار کوي... سره له دې چې متحده ایالاتو څو ځله د دغو وسایلو د نه کارولو خبرداری ورکړی ؤ خو هغوی لا هم ADE 651کاروي.[7]

د ۲۰۱۴ز. کال د جون په ۸مه نېټه، لس تنه وسلهوال چې په اتومات وسلو، راکټویشتونکي، ځانمرګو واسکټونو او لاسي بمونو سمبال وو، د پاکستان د کراچۍ ښار پر جناح نړیوال هوایي ډګر برید وکړ.
بریدکوونکو د هوایي ډګر د امنیتي ساتونکو (ASF) جامې (یونیفورم) اغوستې ؤ او ځینو یې ځانمرګي واسکټونه پر تن کړي وو.
**وسلهوالو په هوایي ډګر کې د پاکستان ولاړې الوتکې او د امریکایانو (ایساف) د وسلو او مهماتو د کارګو دوه ډیپو په نښه کړل چې خورا ډېر زیان یې واړاوه.**
د پاکستان د استخباراتو یوه لوړپوړي چارواکي وویل چې ځینو وسلهوالو هڅه کوله، یوه الوتکه وتښتوي خو په دې کار کې بریالي نه شول.[8]
شوني ده په وسلهوالو کې یو پیلوټ هم شتون درلود چې غوښتل یې د جګړې په جریان کې د الوتکې په الوزولو (پرواز) سره ځانونه وژغوري.
د هوایي ډګر امنیتي ځواک (ASF) پر بریدکوونکو برید پیل کړ او هغوی یې یو پر بل پسې ووژل. د دوو ساعتونو په دننه کې د لسو وسلهوالو ښځه اته تنه د ASF ځواکونو په ډزو کې ووژل شول او پاتې دوو کسانو هغه مهال ځانونه والوزول چې کلابند شول. **دغې جګړې ۵ ساعته دوام وکړ، په جګړه کې ۳۶ کسان ووژل شول چې په هغوی کې ۱۰تنه بریدکوونکي، ۱۲تنه د پاکستان د ASF ځوکونه، یو تن د رینجرز عسکر، د سېند د پولیسو یو تن چارواکی او د پاکستان انټرنیشنل ایرلاینز (PIA) ۴ تنه کارکوونکي هم شامل وو، په وژل شویو کې د PIA دوه تنه د الوتکو لوړپوړي انجنیران هم وو.**[9]
**همدارنګه، د هوایي ډګر له سړې خونې ښځه ۷ تنه داسې مړي هم وموندل شول چې د سوځیدو له امله یې پېژندنه نه کېده، دغه مړي د ۲۸ساعته، د ژغورنې عملیاتو په بهیر کې وموندل شول. په برید کې لږترلږه ۱۸ امنیتي کسان هم ټپیان شول.**[10]
په دې برید کې پر مرګـژوبلې سربېره، د پاکستان هوایي چلند ته هم ډېر مالي زیانونه واوښتل، **د پاکستان نړیوال هوایي شرکت (PIA) درې الوتکې چې یوه یې بوینګ 747-367، بله بوینګ 777**

---
[7] :https://www.dawn.com/news/858184/lives-at-airport-threatened-by-bogus-bomb-detectors
[8] :https://www.theguardian.com/world/2014/jun/08/karachi-airport-attacked-militants-pakistan
[9] :http://tribune.com.pk/story/719575/terror-woes-a-dark-night-for-the-aviation-sector/
[10] :https://en.wikipedia.org/wiki/2014_Jinnah_International_Airport_attack#cite_ref-bp_19-0


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

**او دریېمه ایربس A310-308 وه، زیانمنې شوې، د ایر انډس یوه بوینګ 737-400 الوتکه هم زیانمنه شوه. د PIA له زیانمنو الوتکو څخه بوینګ 747-367 او ایربس A310-308 د اوښتو زیانونو له امله بیاځلي خدمت ته وړاندې شوې او د تل لپاره له خدمت څخه وایستل شوې.**[11]

اټکل کېږي چې هوایي ډګر او PIA ته د دې برید له امله د میلیاردونو پاکستانی روپیو په ارزښت زیانونه اوښتي وي، په یوه اټکل کې **د ټولو راټولو شویو زیانونو اندازه له ۱۸۰ میلیاردو د هغه مهال پاکستانی روپیو څخه زیاته ښودل شوې ده.**[12]

**همدا رنګه د کراچۍ په هوایي ډګر کې د ناټو له اکمالاتو څخه ډک دوه کارګو ګودامونه چې افغانستان ته د لېږد په موخه جیپ موټرونه، بې‌پیلوټه الوتکې، درمل او چاودیدونکي توکي په کې ساتل شوي وو، اور واخیست چې دغه لګیدلي اور څلور ورځې دوام وکړ او په پای کې ټول توکي په ایرو بدل شول، په هغه موده کې چې ګودامونه په اور کې سوځیدل د ډېرو چاودنو غړونه هم اوریدل کیدل.**[13]
له برید وروسته، هوایي ډګر له امنیتي پلوه پاک کړای شو او د پاکستان ملکي هوایي چلند اداري او د هوایي ډګرونو امنیتي ځواک (ASF) ځواکونو ته وسپارل شو.

د یادولو ده چې دوه ورځې وروسته د نوموړي هوایي ډګر له برید څخه، د جون په ۱۰مه نېټه له دوو تر څلورو پورې ناپېژندو وسلهوالو د کراچۍ د پهلوانګوټ په سیمه کې (د هوایي ډګرونو امنیتي ځواک اکاډمې ته څېرمه دزې وکړې او له هغه ځایه په شا شول.[14]

**د پاکستان تحریک طالبان (TTP) د کراچۍ د هوایي ډګر برید مسؤلیت ومانه، ویې ویل چې دا برید د دوی د پخواني مشر حکیم‌الله مسید د وژل کیدو په غبرګون کې ترسره شوی دی.**[15] حکیم‌الله مسید د ۲۰۱۳ز. کال په نومبر کې د شمالي وزیرستان په میرانشان کې د یوې امریکایي بې‌پیلوټه الوتکې په برید کې وژل شوی ؤ.[16]

تې‌تي‌پي دا هم ومنله چې د برید عاملین ازبک توکمه بهرني وسلهوال وو او د ازبکستان د اسلامي غورځنګ(IMU) غړي وو. دغه غورځنګ له القاعدې سره تړلې یوه اداره ده چې له تحریک طالبان پاکستان سره نږدې همکاري لري او د پاکستان په ګډون د څو هېوادونو له خوا منع بلل شوی دی.[17]
د برید له پای ته رسېدو وروسته، د جون په ۱۰مه نېټه د پاکستان
د ملي امنیت په تړاؤ د کابینې غونډه د لومړي وزیر نواز شریف په مشرۍ جوړه شوه، په غونډه کې د

---

11 :https://www.flightglobal.com/news/articles/atr-crash-is-pias-tenth-hull-loss-since-2000-432228/
12 :http://www.thenews.com.pk/Todays-News-3-255226-PIA-suffers-heavy-financial-losses:-officials
*13* :https://www.dawn.com/news/1111870
14 :http://www.dawn.com/news/1111801
15 :http://www.ibtimes.com/militants-attack-karachi-airport-pakistan-live-stream-updates-video-1595961
16 : https://www.bbc.com/news/world-asia-27758029
17:http://www.thenews.com.pk/article-150430-IMU,-Al-Qaeda-affiliate-claims-its-fighters-attacked-Karachi-airport


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

پوځ مشر راحیل شریف، د کورنیو چارو وزیر نثار علي چودري او د حکومت او پوځ لوړپوړو چاروا‌کو ګډون کړی ؤ.[18]

## [غبرګون: د ضرب عضب علیماتو پیل]

د جون په ۱۵مه نېټه، پاکستاني پوځ په رسمي توګه په شمالي وزیرستان کې **د ضرب عضب** عملیاتو د پیل اعلان وکړ. په عملیاتو کې د پاکستان هوايي، سمندري، توپچي او ځمکني ځواکونه شامل وو. امریکایانو د دغه ګام تود هرکلی وکړ. **او د امریکا هغه بې‌پیلوټه بریدونه چې د پاکستاني حکومت په غوښتنه د شېړو میاشتو لپاره درول شوي وو، د دغو عملیاتو پر مهال بیا پیل شول.**[19]
د جون په ۱۲مه، د پنجشنبې په لومړیو ساعتونو کې، د امریکا متحده ایالاتو د پاکستان په شمال لوېدیځو قبایلي سیمو کې د ډرون د بریدونو لړۍ [د پاکستان په غوښتنه] بیا پیل کړه او د شمالي وزیرستان په میرامشاه ښارګوټي ته څېرمه یې دوه پرله‌پسې ډرون بریدونه ترسره کړل.[20]
**د جون په ۱۵مه، د پاکستان هوايي ځواک جنګي الوتکو په شمالي وزیرستان کې د وسله‌والو پر اته پټنځایونو بمباری وکړې. د امنیتي چاروا‌کو په وینا، په دغو بریدونو کې شاوخوا ۱۰۵ وسله‌وال ووژل شول. خو د نورو رسمي سرچینو له مخې د وژل شویو شمېر ښایي تر ۱۵۰ پورې رسېدلی وي.**[21]
پوځي او استخباراتي سرچینو د عملیاتو له پیل مخکې په دغو مرکزونو کې د بهرنیو او ځایي وسله‌والو شتون تأیید کړی ؤ. د ازبک وسله‌والو مهم قوماندان او د هوايي ډګر د برید اصلي طراح **(ابو عبدالرحمن المانی)** هم د وژل شویو کسانو په ډله کې یاد شوی دی... .[22]

د جنرال راحیل شریف د ضرب عضب عملیاتو له امله د وزیرستان ډېری وګړي بې‌کوره او بې‌ځایه شول، له میرامشاه او غلام خان څخه ملکي وګړو وایستل شول، په یو شمېر سیمو کې امنیتي پوستې جوړې شوې چې بې‌ځایه شوو خلکو ته یې خواړه او درمل ورکول. له شمالي وزیرستان څخه د عامو وګړو ایستل د بنو پر لور دوام درلود چې **«د عملیاتو په پایله کې، د پاکستاني چاروا‌کو له‌خوا د جولای تر ۱۴مې نېټې پورې ۹۲۹،۸۵۹ بې‌ځایه شوي ملکي وګړي چې د ۸۰،۳۰۲ کورنیو غړي یې لرل، ثبت شوي وو.»**[23]
هغه مهال چې پاکستانیو پوځیانو په وزیرستان کې د ضرب عضب علمیاتو له رسمي اعلان وړاندې، د ټي‌ټي‌پي پر وسله‌والو پرله‌پسې هوايي بریدونه پیل کړل نو د ۲۰۱۴ز. کال د جون په لومړیو کې، شاوخوا ۶،۴۵۲ کسان د خوست ولایت ته واوښتل او د همدې کال د جولای تر ۲مې نېټې پورې

---

[18] :https://www.dawn.com/news/1111808/meeting-on-national-security-under-way-at-pm-house
[19] :https://www.geo.tv/latest/103332-Large-part-of-Shawal-cleared-as-operation-Zarb-e-Azb-enters-final-phase
[20] :http://www.dawn.com/news/1112050
[21] :https://en.wikipedia.org/wiki/2014_Jinnah_International_Airport_attack#cite_ref-150_militants_11-0
[22] :https://www.dawn.com/news/1112901/
[23] :http://timesofindia.indiatimes.com/world/pakistan/Local-support-for-dreaded-Islamic-State-growing-in-Pakistan-Report/articleshow/45149421.cms


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالې د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

افغانستان ته د اوښتو شمېر له ۷۵،۰۰۰ کسانو زیات شو چې ډېری یې په خوست او پکتیکا کې ځای‌پرځای شول.
د ملګرو ملتونو او بشري ادارو د شمېرو پر بنسټ، د جولای تر ۱۵مې نېټې پورې ۱۲،۳۴۰ کورنۍ افغانستان ته اوښتې وې، له دې ډلې ۸،۶۹۲ کورنۍ په خوست او ۳،۶۴۸ کورنۍ په پکتیکا کې ثبت شوې وې. وروسته د کډوالو شمېر لا پسې ډېر شو، **د ۲۰۱۴ز. کال تر دسمبر پورې شاوخوا ۳۸،۹۰۰ کورنۍ چې۲۹۱،۸۰۰ کسان کیږي، له شمالي وزیرستان څخه افغانستان ته راغلل.**[24]

د ۲۰۱۵ز. کال د جون په ۱۳مه نېټه، د پاکستان پوځ، د ضربِ عضب عملیاتو د یوه کال په اوږدو کې د پرمختګ په اړه مالومات ورکړل، د پوځ د عامه اړیکو اداري (ISPR) عمومي مشر، جنرال عاصم سلیم باجوه، وویل چې **د تر دې مهال پورې ۲/۷۶۳ وسله‌وال وژل شوي چې په هغوی کې ۲۱۸ تنه د ترهګرو قوماندانان هم شامل وو. نوموړي زیاته کړه چې دا کسان د استخباراتي مالوماتو پر بنسټ په ترسره شویو ۹۰۰۰ عملیاتو (IBOs) په جریان کې وژل شوي دي.**
هغه وویل: «تر اوسه پورې د عملیاتو په ترځ کې د ترهګرو ۸۳۷ پټنځایونه له منځه وړل شوي او ۲۵۳ ټنه چاودېدونکي توکي ترلاسه شوي دي.» پوځ همدارنګه ۱۸/۰۸۷ وسلې ترلاسه کړې وې چې په هغو کې درنې ماشینداري، سپک ماشین‌ګنې، نښه‌ویشتونکي ټوپکونه، راکټ ویشتونکي او AK-47 شامل وو.
سلیم باجوه دا هم وویل چې زرګونه ترهګر نیول شوي، د هغوی سنګرونه پاک شوي او د هغوی د اړیکو زېربنا له منځه وړل شوې ده.
هغه زیاته کړه: **«د پاکستان د وسله‌والو ځواکونو ۳۴۷ افسرانو او سرتېرو شهادت [؟] نصیب شوی دی.»**[25]

د پاکستان د دفاع وزیر خواجه اصف، ۲۰۱۵ز. کال (د بریا کال) وباله او ضربِ عضب عملیات یې «په هېواد کې د ترهګرۍ د له منځه وړلو لپاره د هوډ ځرګندونه وبلله.

د ۲۰۱۴ز. کال په فبرورۍ کې د پاکستان د مالیې وزیر **(اسحاق ډار)** له یوه امریکایي سناتور **(جک رېډ)** سره چې پاکستان ته یې سفر کړی ؤ، وویل چې د ضرب عضب عملیاتو لګښت ۴۰ میلیارده پاکستانۍ روپۍ (۱۴۰ میلیونه ډالرو) ته رسېدلی او ښایي تر ۱۳۰ میلیارده پاکستانۍ روپیو (۴۷۰ میلیونه ډالرو) پورې لوړ شي.[26]

نېټه:۱۴۰۵/۶/۱۷ل. ل

**نور بیا**

**د ښاغلی محمد انور اڅر نوري لیکني په دی لینک کی ولولی.**

---

24:https://www.unhcr.org/sites/default/files/legacy-pdf/53d8dc1b9.pdf?utm_source=chatgpt.com
25 : http://tribune.com.pk/story/903282/2763-terrorists-killed-in-operation-zarb-e-azb/
26 : http://tribune.com.pk/story/840678/seeking-assistance-zarb-e-azb-to-cost-1-3b-dar-tells-us-legislator/


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ